اسدالله ساحل ۲۰۱۳/۰۸/۱۷

# خوشحال بابا فکري بهیر

## افغان ملی غورځنګ

خوشحال بابا فکري بهیر خپله اونیزه ناسته تیره پنجشنبه د ۲۰۱۳ز د اګست په لومړۍ نیټه ماسپښین درې بجې په کتاب ښار کې جوړه کړه، ناسته د معمول سره سم د قرانکریم د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل شوه. د دریځ چارې ښاغلي اسرار احمد خان ترسره کولې د اجنډا سره سم لومړی ښاغلی خان آغا احمدزي د تیرې اونۍ سیاسي او ټولنیزو پیښو ته ځغلنده کتنه وکړه، چې مهم ټکي یې په دې توګه وو:




د امنیتي تړون پر سر د افغانستان او متحده ایالاتو ناندرې د ملکي تلفاتو په اړه د ملګرو ملتونو د راپور خپریدل او غبرګونونه د سولې روانې هڅې سیمي ته د امریکا د ځانګړي استازي او د بهرنیو چارو د وزیر سفرونه دټاکنو د خپلواک کمیسیون د کمیشنرانو معرفي کیدل.

د هېواد په ځینو سیمو کې د پاکستاني تعلیمي نصاب د تدریس اوازې چابهار څخه د صادراتو پیل او ځینې نور موضوعات په پورته موضوعاتو د ګډونوالو له خوا پنځه دقیقې بحث او مناقشه هم وشوه

وروسته د پوهندوی مسعود د کتاب (( د پیسو سیاستونه )) چې ښاغلي نیازي ژباړلی نوموړي د کتاب خلاصه له ګډونوالو سره په دې توګه شریکه کړه د پیسو رامنځ ته کیدل او پړاونه دپیسو اړوند قوانین د پانګې قانون وخت تنظیم، سپما، بیمه، تادیات، بیلانس ارزښت لرونکي سندونه، قسطونو او ځینې نور موضوعات په پورته موضوعاتو هم پنځه دقیقې ګډونوالو خپل نظریات شریک کړل.

د اجنډا په وروستۍ برخه کې د ښاغلي ثناء الله له خوا برابر شوی پریزنټیشن ( افغانستان کې د پاکستان او هندوستان د سیالۍ راتلونکی او افغانستان ته یې زیانونه )

د پریزنټیشن مهم ټکي په دې توګه وو:

**د ستراتیژیک تړون خنډونه:**

- د هند او پاکستان ترمنځ په افغانستان کې جګړه اوږدوي.
- یو سیمبولیک تړون دی. څومره باوري دی چې هندوستان به په تړون کې شوې ژمنې عملي کړي؟؟
- که عملي شي نو افغانستان ته یې ګواښونه کوم دي؟

**ولې هندوستان افغانستا ته وسلې ورنه کړې:**

- هندې پالیسی جوړونکې په دوه نظره دي:
- لومړۍ ډله: وسله ورکړه او پاکستان سره دښمني لاپسې غښتلې کړه او منځنۍ اسیا ته یې مخه ډب کړه
- دوهمه ډله: اسلام آباد او راولپنډۍ سره په افغانستان کې د سیالۍ پرځای خبرې باید وشي او همغږي رامنځ ته شي.



**ولې یې ورنه کړې؟**

- کرزي حکومت د پښتنو نماینده ګې نه کوي. او پر پښتنو سیمو یې واک نشته
- نه غواړي چې جنوب او فاټا پښتانه د خپل ځان دښمنان کړي ځکه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په فاټا کې به خلک فکر وکړي چې هندوستان د دوي پرضد افغانانو ته وسله ورکړه چې دوی ووژني.

- نه غواړي چې په افغانستان کې يې له پاکستان سره سيالي ژوره شي.
- امريکا افغانستان ته د تجهيزاتو د ورکړې په اړه له پاکستان سره همغږي لري.
- د کرزي په ليسټ کې ډير داسي مهمات ول چې هندوستان سره نشته
- دغه وسلې قوي اقتصاد ته اړتيا لري چې وساتلای شي
- يواځې پر پاکستان فشار و او بس
- افغانستان څخه سوريه نه جوړوو
- دا ضمانت نشته چې ورکړل شوې وسلې به بيرته د هند پرضد په کشمير کې ونه کارول شي

### کله به وسلې ورکړي؟

- که پوه شو چې افغان دولت له پښو لويږي او طالبان واک نيسي بيابه خپل ټول امکانات په کار واچوو او هر چاته چې له طالبانو سره جنګيږي وسلې ورکړو.

### د افغانستان تجزيه:

- سرتاج عزيز او نور يی په ښکاره او پټ ډول له افغانستان څخه غواړي چې ختيځ او سهيل دې طالبانو ته ورکړي. که چيرې دوی دغه موخې ته ورسيږي نو بيا دوی کولای شي چې شمال تر خپل اغيز لاندې راولي او هلته د خپل هر سيال ګټې وګواښي.
- دوهم داچې پاکستان د شمال ټلوالي قومندانانو ته وايي چې تاسي هم شمال کې خپل حکومت غواړئ او موږ درسره مرسته کولای شو.
- پاکستان ځکه طالبان د شمال سره مستقيم کينوي چې دوی پوهيږي چې طالبان او شمال ټلوالي توافق يواځې په همدې راتلای شي چې افغانستان په دوو برخو وويشي.
- دريم پاکستان ځکه غواړي چې دغه خبرې دې په کوم دريم هيواد کې وي او بيا هڅه کوي چې د شمال ټلوالي قومندانان هم هلته ورسوي چې په همدې خبره سره سلاشي.

### که چيرې کورنۍ جګړه رامنځ ته شي:

- هندوستان به هڅه وکړي چې له موجوده نظام او موجوده ملي اردو څخه ملاتړ وکړي. دوی ته وسلې ورکړي او نور امکانات ورته برابر کړي.
- که ملي اردو ټينګه نشوه بيا به هر هغه سازمان چې د حقاني نيټ ورک پرضد جګړه کوي که هغه پښتون وي او که غير پښتون دوی به يی ملاتړ وکړي.
- پخوا چې هندوستان د شمال ټلوالي ملاتړ کولو پاکستان هڅه کوله چې د طالبانو په ليکو کې نور اقوام په مهمو چوکيو رانشي.

### د شمال ټلوالي او هندوستان اړيکې:

- که څه هم ټلوالي پاکستان ته تمايل پيداکړی خو دا ډير موقت دی، هندوستان فکر کوي چې د ټلوالي په واک کې پاتې کيدل او يا واک ته رسول د پاکستان له همکارۍ پرته ناشوني دي. نو دوی بيا کولای شي چې د لنډ مهال لپاره پاکستان سره اړيکې ونيسي.
- ۲۰۱۲ز کال کې ايله د هندوستان حکومت خپلو ډيپلوماټانو ته د پښتو ژبې زده کړه پيل کړه

### ډيورنډ کرښه او د هندوستان دريځ:

ښکاره وړانديزونه:

- هندوستان نه په مستقيم ډول او نه په غير مستقيم ډول د ډيورنډ کرښه نه ده منلې.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- افغانستان باید هڅه وکړي چي د ډیورنډ کرښه د دوو هیوادونو ترمنځ ستونزه کړي نه کومه نړیواله ستونزه
- هندوستان وایی چي باید دغه موضوع اوس همداسي غلي پاتي شي څکه چي افغانستان لابي نشي کولای، او په سفارتونو کي یی اکثره هغه خلک استازي توب کوي چي په ښکاره ډول د دغي داعیي مخالف دي.
- د هندوستان په فکر د دغي پولي راګرځول له پاکستان څخه یو قوي اقتصاد ته اړتیا لري چي افغانان لا اقتصاد قوي نه دي.

**پټه پالیسی او واقعیت**

**هندوستان چین سره ورته ستونزه لري:**

- د همالیا د غرونو په څنډو کي هندوستان او چین هم ورته ستونزه لري، برتانیي د چین سره د تبت په سیمه کي پوله ټاکلي وه، چي چین یی اوس نه مني او پخوانی د زور پوله یی ګڼي.
- له څلور لسیزو راهیسي د چین او هند تر منځ دا لانجه روانه ده، چین څو ځلي سور پوځ پولو ته لیږلی او څو ځلي سیاسي کش مکش زیات شوی، یو ځل یی جګړه هم کړي ده او لا یی هم دحل لاره نه ده پیداکړې.
- څرنګه چي پاکستان په دغه مسأله کي یاخو غلي پاتی دی او یا یي د هندوستان ملاتړ کړی دی، نو هند هم نه غواړي په دغه برخه کي له پاکستان سره دښمني وکړي
- ځیني نور مهم موضوعات چي په پریزنټیشن او وروسته د ګډونوالو له خوا پري بحث وشو

د ناستي په وروستی برخه کي د راتلونکي غونډي لپاره چي له اختر وروسته به جوړیږي پریکړه وشوه چي ښاغلی سمیع الله ایلم به د بن لادن د ودي او ظهور تر سرلیک لاندې د ژباړل شوي کتاب غور چاڼ او مهم ټکي وړاندې کوي،

همدارنګه ښاغلي داود سلیم ژمنه وکړه چي د اسلام له نظره به د قومیت په اړه یو پریزنټیشن جوړه وي او راتلونکي غونډه کي به یي وړاندې کوي.
د راتلونکي غونډې پټه او ځای:
وخت: پنجشنبه، د زمري ۲۴ ، د ماسپښین دری بجي
ځای: د سینما پامیر دویم پوړ، کتاب ښار

ناسته په دعا سره پای ته ورسیده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ